ډاکټرعبدالرحمن زماني
د ۲۰۲۰ کال د جون ۸مه

# د يوه افغان لخوا د پاکستان د لومړني صدراعظم د وژل کېدو د معما په هکله:

# اتمه برخه – زمرک خان په وزيرستان کې د کابل او شيملې تر څار او ښکار لاندې

د پښتنو داوسېدو سيمه د خپل ستراتيژيک او جغرافيوي موقعيت له امله ددوې په ژوند او تاريخ باندې ژوره اغيزه درلودلې او لري. که افغانستان دتيري کوونکو گورستان، او افغانان په نړۍ کې د خارجي حاکميت او پوځي تيري په وړاندې د مقاومت اتلان گڼل کيږي، نو بيا د پردي ښکيلاک په وړاندې د پښتنو قبايلو د مبارزو تاريخ هم ډير اوږد دئ. دوي چې اکثره يې د ډېورنډ د تپل شوې کرښې دواړو خواوو ته پراته دي، د خپلو رواجونو، ژبې، تاريخ، کلتور، قامولۍ او مذهب په مزو سره ټينگ تړل شويدي.ددوې افکار او احساسات، درد او رنځ، او خوشحالي اوخپگان سره شريک او پريوبل اغېزه لري.

**په وزيرستان کې د غازي ببرک خان ځدراڼ د زامنو ملاتړ**

کله چې د غازي ببرک خان ځدراڼ زامن په وزيرستان کې ميشت شول، نو په وزيرستان کې يې د ګڼو ميشتو قومونو لخوا هرکلي، حمايت او ملاتړ وشو. د وزيرستان اوسيدونکي نه يوا ځې د انگريزانو سره په ډيرې اوږدې وسله والې مبارزې بوخت وو، بلکې د آزاد سرحد د نورو قبايلو، د برېتانيانوي هند د مسلمانانو، د اسلامي خلافت د پلويانو، او خدايي خدمتگارانو په شان يې نه يوا ځې د افغانستان د خپلواکۍ د جگړې راهيسې غازي امان الله خان ته د ناجي او اسلام د پاچا په سترگه کتل، بلکې د هغه د بيرته راتگ غوښتونکي هم وو. دوي له همدې امله د غازي ببرک خان او د هغه د زامنو سره نږدې پيژندگلوي او همدردي درلوده.

له بله پلوه، له پاچا کېدو وروسته د سردار محمد نادر خان او کورنۍ پر وړ اندې په وزيرستان او قبايلي سيمو کې د خلکو کرکه او نفرت ځکه راپاريدلې و چې:

- يو خو د وزيرو او مسعودو هغه لښکرچې نومورې ته يې د سقاو له زوی حبيب الله نه واک او تخت گټلی و، په خورا خواشينۍ او خپگان بېرته وزيرستان ته راستون شوې و. سردار نادر خان لومړی له هغوی سره پر خپلو کړو وعدو او ژمنو عمل ونه کړ، او وروسته يې د غازي امان الله خان پرځای خپله پاچاهي اعلان کړه.
- بل واک ته رسيدو سره سم يې د غازي امان الله خان د پلويانو ځپل او وژل پيل کړل.
- او پر دې برسيره، انگريز پلوه سياستونه او برېتانيا سره پټو معاملو يې په وزيرستان کې د ميشتو مبارزينو او غازي امان الله خان د پلويانو ځپلو ته زمينه برابره کړه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

**د سردار هاشم خان په غوښتنه د انګریزانو بمباري**

د غازي ببرک خان ځدراڼ د لمسي، قاضي محمد عمر خان ببرکزي وینا ده چې هغه مهال زه ښه لوي وم. « د کابل د حکومت په غوښتنه زمونږ کورنۍ [د انګریزانو] تر تعقیب لاندې ونیول شوه. په وزیرستان کې زمونږ د کورنۍ څه موده تیره شوې وه چې د انګریزانو یوه زیړ رنګه الوتکه راغله، زمونږ د پاسه یې په پرله پسې توګه پروازونه وکړل، یو زیات شمېر ګلابي رنګه کاغذونه یې وشیندل چې پر یو مخ یې په پښتو ژبه او په بل مخ یې په اردو ژبه داسې لیکل شوي وو: "زمونږ جنګي الوتکې په ټاکلو حدودو کې بمباري کوي، نو تاسو ته خبر درکول کیږي چې په دې حدودو کې دې ماشومان او ښځې له سیمې څخه ووځي". قاضي محمد عمر ببرکزي وړاندې لیکي: "زما ښه په یاد دي چې بله ورځ سپېږ بم غورځوونکې الوتکې سیمې ته راغلې او بمونه یې وغورځول. په هغو پسې شپږ نورې الوتکې راغلې او بمباري یې وکړه. همدارنګه تر مازیګر پورې بمباري روانه وه، داسې چې شنو ځنګلونو اور واخیست. مونږ یوې بلې سیمې ته لاړو، خو هلته هم بمباري راباندې روانه وه، دې بمباریو درې ورځې دوام وکړ تر څو د وزیرستان د ننګیالي او میړني قام مشران راټول شول او انګریزانو ته یې خبرداري ورکړ چې د نائب سالار کورنۍ زمونږ میلمانه دي، مونږ په خپله سیمه کې د دوی بې عزتي نه غواړو، خو که انګریزان بیا هم خپلو بمباریو ته دوام ورکړي، نو د وزیرستان د خلکو بالمثل اقدام ته دې تیاري ونیسي. همدارنګه د وزیرستان یوه ستر مجاهد شخصیت، غازي میرزا علیخان (ایپی فقیر)، هم اخطار ورکړ چې که د "ډېم" سیمه بیا تر بمبارۍ لاندې ونیول شي، نو د ناوړه عواقبو مسئولیت به د انګریزانو په غاړه وي (د ډېم سیمه هغه غرنۍ ورشو ده چې د نائب سالار زمرک خان کورنۍ په کې میشت شوې وه).

انګریزانو د وزیرستان د خلکو د دې اخطار په مقابل کې خپلې بمبارۍ ودرولې او وزیرو نائب سالار زمرک خان ته وویل چې تاسو د خپلې کورنۍ سره "پخې میلې" ته لاړ شئ هلته په آرامۍ سره خپل ژوند ته دوام ورکړئ. مونږ هلته ولیږدیدو او د شامي خان ملک په لویه کلا کې مو واړول خو په خپله شامي خان ملک د خپلو بچیانو له پاره په یوه نږدې سیمه کې څپر جوړ او په هغه کې میشت شو. مونږ درې کاله په دې سیمه کې تیر کړل»[1].

د شوروي استخباراتو ریپوټونه هم د ببرکزي د کورنۍ د پورتنۍ وینا پخلې کوي. «د افغان حکومت په غوښتنه، د انګلستان هوایي ځواکونو په وزیرستان کې ټول هغه کلي بمبارد کړل چیرې چې د ځدراڼو مشر [زمرک خان] اوسیدلی شو. د شمال لویدیز سرحدی ایالت والي وزیرو ته د دوی پر کلیو د جنګي الوتکو د الوتنو خبرداری ورکړ. د انګریزانو قوماندانۍ د هوایي بم غورځوونکو الوتکو د بریدونو د اغیزې د زیاتوالي په مقصد، خپل عملیات د افغان وسله وال ځواکونو له لوي درستیز [سردار محمد داؤد خان] سره همغږي کړل»[2].

---

[1]. غروال، محمد عارف د غازیانو او اتلانو یاد، ۱۵۴-۱۵۲ مخونه.

[2]. په کابل کې د شوروي اتحاد د مېشت ایجنټ د ۸/۱۰/۱۹۴۴ نیټې ریپوټ، د بهرنیو استخباراتو د اداري آرشیف، د افغانستان د قبایلو دوسیه (۳۱۲۵۲)، ۱۳۸ پاڼه (تیخانف - د آریانفر ژباړه)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**د واکمني کورنۍ د زر او زور پالیسي**

د ۱۹۴۴ د جون په نیمايي کې کابل ته یو خبر ورسید چې د آزاد سرحد وزیرو د بریتانیا د حکومت له تړولو ګوابنونو سره سره ، زمرک خان سره موافقه کړې چې د ځدرانو سره یوځای به د حاصلاتو تر راټولولو سمدلاسه وروسته دافغان حکومت په وړاندې وجنګیږي. د همدې هدف لپاره زنګي خان له مسعودو سره خبرې پیل کړې.



اعلیحضرت محمد ظاهر شاه، صدراعظم سردار هاشم خان او د دفاع وزیر سپه سالار شاه محمود خان

په دې خطرناک وضعیت کې، د خانداني حکومت مشرانو یوځل بیا هڅه وکړه چې زمرک خان په دام کې ونیسي. له هغه سره ژمنه وشوه چې که خپله وسله کیږدې نو ټوله شتمنی او ځمکې به یې بیرته ورکړ شي، خو زمرک خان ته د یحیی خیلو اصلي څیره معلومه شوې وه او نه غولید.

د ۱۹۴۴ کال د دوبي په جریان کې، د هاشم خان حکومت په جنوبي کې خپل سرتیري تقویه کول او په ملیونونو افغانۍ یې په قومي مشرانو مصرف کړې.



سردار محمد داؤد خان د قوای مرکز قوماندان

د زرو په زور ، کابل یو ځل بیا وکولی شو چې د ځدرانو څیني مشران راجلب کړي ، او د ۱۹۴۴ کال د سپتمبر په دوهمه، ظاهرشاه په خپلې ماڼۍ (شاهي ارګ) کې د دوې شانداره هرکلي وکړ ، او د قومونو سره د پخلاینې لپاره یې ددوې زیاتې مهمې غوښتنې هم ومنلې.

د حکومت دې اقداماتو ځدرانو د پام وړ برخې سره پخلا او د زمرک خان څخه جلا کړې. خو د آزاد سرحد وزیرو د هغه ملاتړ ته دوام ورکړ. کوم چې هاشم خان مجبوره کړ د مرستې دپاره یو ځل بیا بریتانیا ته مخه کړې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغان حکومت په غوښتنه، د انګلستان هوايي ځواک د وزيرستان پر ټولو هغو کلو بمونه وغورځول، چيرې چې د ځدراڼو د مشرانو د اوسيدو امکانات وو. د شمال لويديز سرحدي ايالت والي وزيرو ته د جنګي الوتکو د الوتني خبرداری ورکړ. د انګريزانو قوماندانی د بمباری د لا اغيزمنتوب په مقصد خپل عمليات د افغان وسله وال پوځ دعمومي قوماندانی سره همغږي کړل.[3]

**د انګريزانو او خانداني حکومت ګډ اقدامات**



اروانباد زمرک خان ببرکزي د غازي ببرک خان ځدراڼ زوی

دخانداني حکومت او انګريزانو استخباراتي ادارو په همغږی سره د زمرک خان ځدراڼ او د هغه د ملګرو د ټولو حرکاتو څارنه کوله . د انګريزي استخباراتو په آرشيف کې د مهمو اشخاصو په هکله د (Who is Who) په نامه دوسيو کې د مزرک خان [زمرک خان] ځدراڼ شميره ۴۲۳ ده (W.W. 423). د هغه په هکله دبريتانوي هند پيښور د څانګې د استخباراتو د رياست د مرستيال رئيس د ۱۹۴۵ کال په ټولو محرمانه اونيزو ريپوټونو کې د هغه د ټولو حرکاتو د څارنې معلومات موجود دي چې يو څو بيلګې يې په لنډه توګه دلته ذکر کوو:

- پيښور، د ۱۹۴۵ کال دجنوري ۱۳مه نيټه: د ژمي د سړې هوا له امله د جنوبي په سيمه کې ټول مهم تګ راتګ بند شوي دئ. فرقه مشر غلام رسول د اوس وخت دپاره د «برمل» په سيمه کې خپله دوره ختمه کړې او اوس هم په ارګون کې دئ. د سيمې نه د هغې په وتلو سره زمرک خان او د هغه ملګري بيرته "پڅي ميلي" ته ستانه شوي دي. په وزيرستان کې د "کژې" د "مداخيل" وزيرو مشر، ارسلا خان، په "ورژو" کې د فرقه مشر غلام رسول سره ليدلي دي. هغه ته د افغان حکومت د مخالفينو د پناه نه ورکولو په بدل کې وعدې ورکړ شوي دي. ارسلا خان وروسته د "کژه" مداخيلو د يوې غونډې د ګډون کوونکو نه غوښتې دي چې د افغان حکومت لخوا د مستمري تنخوا د ورکړ شوې ژمنې په

---

[3] . په کابل کې د شوروي اتحاد د مبشت ايجنټ د ۸/۱۰/۱۹۴۴ نيټې ريپوټ، د بهرنيو استخباراتو د اداري آرشيف، د افغانستان د قبايلو دوسيه (۳۱۲۵۲)، ۱۳۸ پاڼه (تيخانف - د آريانفر ژباړه)




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

اساس د ده سره ارګون ته لاړ شي. د ايپي فقير اوس هم په "ګورويښت" کې دئ. د هغه سره تر ليدو ورسته د راستانه شوو [انګريز] دښمنه مشرانو په وينا، هغه به د "شکتو" سيمې ته راستنيږي تر څو په دوو مياشتو کې خپل کمپاين پيل کړي. اوس تصديق شوي چې زمرک خان او پلويان يې د "مير څپر" د سيمې نه بيرته "پخې ميلې" ته ستانه شوي دي.

- پيښور، د جنوري ۲۰مه او ۲۷مه نيټه: د چارباغ د نقيب په مشوره، صدر اعظم [هاشم خان] د امان الله خان په ضد او يحيی خيلو په ګټه د مشرقي ولايت او کتواز کې، چيرته چې په خاصه توګه د امانيستانو اثر رسوخ زيات دئ، د تبليغاتو تنظيمول پيل کړي دي. زمرک خان پدې هفته کې په "پخه ميله" کې پاتې شوئ او د يوه ملنګ سره په پټه خبرې کړيدي. ملنګ بيرته د "دوه غر" سيمې ته ستون شوئ. هغه په نظر کې لري د ځدرانو د هغو مشرانو سره بيا تماس ونيسي کوم چې له ارګونه بيرته راستانه شوي دي. هغه همدا راز د "نائب سالار زرخان کابل خيل" نه يو ليک ترلاسه کړئ، په کوم کې چې د کابل د حکومت سره د صلحې د شرايطو په برابرولو کې د خپل خدمت تياري ښودلې دئ. اوس اطمينان ورکړ شوئ دي چې افغاني پوځ يو ځل بيا په المره کې د زمرک خان کلا نيولې ده.

- د فبروري دريمه نيټه: فرقه مشر فيض محمد خان د خوست د والي په توګه بيرته خپلې وظيفې ته ستون شوي دئ. د کابل خيلو وزيرو استازي، کوم چې زمرک خان سره د روغې جوړې د شرايطو د پلان د مخ بيولو دپاره کابل ته تللي د پاچا [ظاهر شاه] سره کتلي او پدې ستونزې خبرې کړيدي.

- د فبروري لسمه او ۱۷مه نيټه: زمرک خان اوس هم په پخه ميله کې دئ. د هغه ورور شيرمحمد خان د جنوري په ۲۵مه نيټه د ځدرانو د تنګې نه راستون شوي او د ځان سره د ملکانو لخوا د تحفې (۸۰) اتيا پسونه هم راوړي دي. شيرمحمد خان د زمرک خان ورور د فبروري په نهمه نيټه په ګورويخت کې د ايپي د فقير د ليدو په لاره، په "جنب خيل" کې د ملک سيد موسی مداخيل سره د ميلمه په توګه شپه تيره کړې ده.


شيرمحمد خان ببرکزی د غازي ببرک خان زوی

- د مارچ دريمه او لسمه نيټه: زمرک خان په تيرو څو هفتو کې د پخې ميلې څخه خوځيدلې نه دئ. د رپوټونو مطابق د خوست د تنيو او نورو قامونو مشرانو د هغه سره په پټه ليدلي دي. ويل کيږي چې د فبروري په ۲۳مه نيټه "پک ملنګ" په پخه ميله کې د زمرک خان سره کتلي او ژمنه کړې چې د پيسو په بدل کې به مدا خيل د هغه په ملاتړ را پاڅوي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

.رپوټونه وايي چې پدې وروستيو ورځو کې د خوست دېرو قومي مشرانو زمرک خان ته د مرستې وړاندیزونه کړي ، ځکه چې هغوی د حکومت نه د وسلو د بيرته سپارلو او عسکري خدمت غوښتنو نا آرامه کړي دي. د مارچ په دوهمه نيټه په پخه ميله کې د زمرک خان پر ځاې شل / پنځه ويشت ډزې شوي. ډزې کوونکي د ځوابي ډزو په نتيجه کې تښتيدلي او لا تر اوسه پيژندل شوي نه دي.

- د مارچ ۱۷مه او ۳۱مه نيټه: په دې اونۍ کې په کابل کې يو ځل بيا پوځي چارو ته کتنه وشوه. پاچا پدې هکله د لوې درستيز نه په خاصه توګه د برېتانوي هند نه د پوځي هيئت د کتنې په هکله مشوره غوښتې، او سردار محمد داؤد خان هم د مشرقي په ولايت کې د عسکرۍ د نفوسو (جدول د سيستم) د معرفۍ په سر د سترو قومونو د مخالفت په هکله رپوټ ورکړ. د خوست والي د زمرک خان په وړاندې خپل کمپاين يو ځل بيا پيل کړ تر څو د زمرک خان سره مرسته کمه شي. هغه د زمرک خان ورور عبدالرحيم خان او تره زوې خير محمد د هغه سره د مرستې په تور ونيول. دوې دواړو ته دمخه اجازه ورکړ شوې وه چې په المره کې خپل جايداد ونيسي، خو اوس پرې شک کيږي چې زمرک خان سره د موادو مرسته کوي. د خوست والي فرقه مشر فيض محمد خان د "تورو اوبو" مهم غلزي ملک محمد جان هم د زمرک خان سره د تماس په شک نيولې دئ. د ايپي فقير خليفه، د تنيو خان محمد ، هم په "ورژيلي" کې د خپل کور نه د خپلې کورنۍ سره ځکه تښتېدلې چې والي يې د زمرک خان سره د مرستې په شک د نيولو کوښښ کولو.

- د اپريل ۷مه نيټه: د خوست والي د خوست او شاوخوا سيمو مهم ملکان بللي او هغوی ته يې د اسلام د پاچا سره د وفادارۍ وينا کړې او زمرک خان ته يې اشاره کړې چې څرنګه يې د حکومت سره په مخالفت کې ځان تباه کړ. د يوه وروستي رپوټ له مخې ځدرانو ، تنيو او ګوربزو په ګډه فيصله کړېده چې د حکومت لخوا په جګړه کې د نيول شوو وسلو د بېرته اخيستلو په وړاندې به په شريکه مقاومت کوي.

- داپريل ۲۱ مه نيټه: د حکومت د فشار له امله د جنوبي ولايت په قامونو کې ناآرامي اوس هم مخ په زياتيدو ده. د منګلو او ځدراڼو د مشرانو تر منځ د حکومت د اقداماتو په وړاندې د ګډې مبارزې پټ تړون شوې او ويل کېږي چې امانيستان هم د دغه نا آرامۍ نه په ګټه اخيستو خپل تبليغات کوي. د افغان ولايتي مقاماتو يو ځل بيا د ايپي فقير نه غوښتنه او هيله کړيده چې د پخوا په شان د زمرک خان او ملنګ سره د مرستې نه ډډه وکړي او د انګريزانو سره د خپلې دښمنۍ په دوام سره د هغوې په وړاندې لښکر ټول کړي، تر څو د وزيرو پام بلې خواته شي او د زمرک خان سره مرسته ونه کړای شي.

- داپريل ۲۸مه نيټه: صدراعظم [هاشم خان] د وزيرو او مسعودو استازي کابل ته بللي تر څو ملنګ ته د دغه قامونو د مرستې ليوالتيا معلومه کړي. په دغه اونۍ کې د کابل د مرکز د قواوو لوا ته هم امر شوې چې جنوبي ولايت ته د تګ د پاره تياره اوسي. د څه لږو قواوو او وسايلو حرکت هم ليدل شوې او يو ځو الوتکې هم ګرديز ته استول شوې او د کابل، ګرديز او متون ترمنځ هوايي خدمات هم پرانيستل شوي دي.

(نور بيا)

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ